هفته نامه معارف اوونیزه
د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه
سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۰۲) ماه ذوالحجة الحرام ۱۴۴۶ هـق. مطابق ماه جوزا ۱۴۰۴ هـ ش.

هر چه بیشتر کتاب بخوانیم، با هوش‌تر می‌شویم

## دیدار معین تعلیمات اسلامی با آمرین و نمایندگان معارف ولایات

محترم الحاج مولوی کرامت‌الله آخندزاده، معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف طی نشستی که با نمایندگان و آمرین تعلیمات اسلامی ریاست‌های معارف ولایات داشت، پیرامون وضعیت نهاد های تعلیمات اسلامی، پیشرفت ها و مشکلات شان صحبت و تبادل نظر نمودند.

نمایندگان در این نشست، در محوریت وضعیت تعلیمی مدارس دینی، دارالعلوم‌ها و دارالحفاظ های ولایات، معلومات همه‌جانبه ارائه کرده و پیشنهاد های خود را نیز با معین تعلیمات اسلامی شریک ساختند.

معین تعلیمات اسلامی رهنمودهای لازم و مناسب را در رابطه به بهبود روند آموزشی مراکز تعلیمی دینی در ولایت ها به نمایندگان ارائه نموده، گفت: «از آنجایی که وظایف و مسئولیت های ما بسیار مهم هستند...

ص ۲




## بدخشان ولایت ته د پوهنې وزارت د سرپرست سفر



د پوهنې وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا او ورسره مل پلاوي، د بدخشان ولایت د پوهنیز وضعیت ارزونې په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

په دې سفر کې د پوهنې وزارت سرپرست د بدخشان ولایت د پوهنې نوي رئیس د معرفي په مناسبت جوړه شوې غونډه کې ګډون وکړ او د ټولنې په اصلاح او پرمختګ کې یې د علم او پوهې پر ارزښت د خبرو سربېره، د یاد وزارت د پراختیایي پروګرامونو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

همدارنګه نوموړي په ادارو کې د علمي کادرونو تقرر او تبدیلي اداري اصل وباله او د یاد ولایت د پوهنې پخواني رئیس محترم الحاج مولوي نصرت الله فیضاني د ترسره کړو خدمتونو ستاینه یې وکړه، نوموړي په دې غونډه کې محترم مولوي محمد طاهر جواد د یاد ولایت د پوهنې د نوي رئیس...

مخ ۲

## پکتیکا ولایت کې د ۱۵ بابه ښوونځیو لپاره د نویو ودانیو رغنیزې چارې بشپړې شوې

د پکتیکا ولایت په ۱۴ ولسوالیو کې د ۱۵ بابه ښوونځیو لپاره د نویو ودانیو جوړولو چارې، چې تېر کال د پوهنې په برخه کې د یوې همکارې اداري په مالي ملاتړ د ۱۶۵ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې وې، بشپړې او تاکل شوې ده، چې په نېږدې راتلونکي کې به تر پرانیستو وروسته کتې اخیستنې ته وسپارل شي.

د پکتیکا ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو د معلوماتو په بنسټ، په دغو پروژو کې د درسي ټولګیو او اداري خونو پر جوړولو سربېره، د څښاک پاکو اوبو او د لاسرسي سرچینې او روغتیا ساتنې اسانتیاوې هم شاملې دي.

د یو بل خبر له مخې په ګومل ولسوالي کې د انورالعلوم دیني مدرسې...

مخ ۲

## اهدای ساختمان برای دارالحفاظ در ولایت پروان

اهالی دین دوست و علم پرور قریه گذره ولسوالی جبل السراج ولایت پروان یک باب ساختمان راکه در مساحت ۲۰۰ متر مربع زمین به صورت پخته و اساسی در دو طبقه احداث شده و دارای ۵ صنف درسی و یک اتاق اداری با تمام تأسیسات لازمی آن می باشد به دارالحفاظ حضرت احمد مختار ولسوالی، اهدا نمودند.



به گفته مسئولان ریاست معارف ولایت پروان در ساخت این تعمیر مبلغ ٤ میلیون ۲۰۰ هزار افغانی به مصرف رسیده که از سوی باشندگان ولسوالی یاد شده پرداخت گردیده ...

ص ۲

## ایجاد ۴۳ باب مرکز آموزشی از شروع سال جدید تعلیمی در ولایت هرات

محترم مولوی رحمت الله جابر رئیس معارف ولایت هرات می گوید که به منظور تطبیق پالیسی وزارت معارف در زمینه ایجاد نهاد های تعلیمی جدید به هدف دسترسی بیشتر اطفال به فراگیری علم و دانش، از آغاز سال جدید تعلیمی ۱۴۰۴ تا کنون در مرکز و ولسوالی های انجیل، گذره، کروخ، پشتون زرغون، اوبه، رباط سنگی، گلران و شیندند آن ولایت ۴۳ باب مکتب جدید، که ۳۸ باب آن خصوصی می باشند، تأسیس گردیده است.

رئیس محترم معارف ولایت هرات افزود: بیشتر مکاتب یاد شده در مناطق ایجاد گردیده است که اطفال آن از ناحیه نبود مکتب در نزدیکی محلات مسکونی شان به مشکلات زیادی مواجه بوده و ناگزیر بودند راه های طولانی را تا رسیدن به مکتب، بپیمایند.

در همین حال علمای کرام و باشندگان مناطق یاد شده از اهتمام رهبری وزارت معارف در خصوص فراهم آوردن سهولت های لازم آموزشی برای فرزندان شان استقبال نموده و حمایت شان را از نظام تعلیمی کشور اعلام داشتند.

## تفاهم نامه چاپ ۸ هزار جلد کتب درسی سواد آموزی

معینیت منابع و اداره وزارت معارف به هدف چاپ ۱۲ عنوان کتب درسی سواد آموزی جلسه دایر نمود.

در این نشست محترم مفتی حبیب الله قتاده نوری رئیس نشرات و روابط عامه، روئسای سواد آموزی و مطبعه معارف نیز حضور داشتند.

در این جلسه مشخصات تخنیکی کتاب های یاد شده از سوی ریاست نشرات و روابط عامه به مطبعه معارف ارائه گردید که از جانب رئیس مطبعه در زمینه وعده همکاری داده شد و در ادامه از جانب ریاست نشرات و روابط عامه از همکاری ریاست مطبعه معارف تشکری صورت گرفت.

در پایان این نشست اشتراک کننده گان به چاپ ۸ هزار جلد کُتب یاد شده موافقت نمودند.


## د کندهار ولایت په ښوونځیو کې د سیرت‌النبي ﷺ سیالۍ ترسره شوې

سیالي د احمد شاه بابا په لیسه کې تر سره شوې.

د کندهار ولایت پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي فخرالدین نقشبندي او د سیمه ییزو ادارو یو شمېر چارواکو هم د دغو سیالیو په پرانیستې غونډه کې برخه اخیستې وه.

د کندهار ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو د معلوماتو پر اساس په دې سیالیو کې د یاد ولایت د یو شمېر ښوونځیو شاوخوا ۱۱۵۲ تنو زده‌کوونکو برخه اخیستې وه. د مسئولینو په خبره د یادو سیالیو له ترسره کولو موخه د حضرت محمد ﷺ د سیرت په اړه د خوانانو د پوهې کچې لوړوالی او د دیني ارزښتونو پیاوړتیا ده.

د یادونې ور ده، هغه زده‌کوونکي چې په یادو سیالیو کې معیاري نمرې ترلاسه کړي، په ستاینلیکونو او دالیو به وویارل شي.




د کندهار ولایت پوهنې ریاست لخوا او د فکري او کلتوري بنسټ په همکارۍ، د سلګونو تنه زده کوونکو تر منځ د سیرت‌النبي ﷺ علمي

## در این شماره

له پوهنیز نظام څخه د ولسونو پراخ ملاتړ د روښانه راتلونکې زیرې ورکوي — مخ ۲
د ترکیې هیواد د تعلیمي ادارو استازو د کابل ښار له پوهنې رئیس سره وکتل — مخ ۲
عبدالعلی مستغنی شاعر و نویسنده توانای کشور — صفحه ۲

سرلیکنه

## له پوهنیز نظام څخه د ولسونو پراخ ملاتړ د روښانه راتلونکي زیری ورکوي

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلامُ عَلَی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَعَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجمَعِین.

هیڅ هېواد تر هغه پرمختګ نشي کولی، تر څو یې ښوونیز نظام ځواکمن نه وي. تعلیم هغه بله ډېوه ده چې د تیارو په ورانديې رڼا خپروي، ناپوهي له منځه وړي، او د پرمختللي او سوکاله راتلونکي دروازې پرانیزي. خو دا کار یوازې د حکومتونو او مسئولینو، مسئولیت نه بلکې د یوه پیاوړي او پرمختللي پوهنیز نظام جوړول د ټولو هېوادوالو ګډ مسئولیت دی.

نن چې د نړۍ پرمختللي هېوادونه د ساینس، تکنالوژۍ او اقتصاد په ډګرونو کې مخکښ دي، د هغوی د بریا راز یوائې د علم او پوهې په تر لاسه کولو او له ښوونیز نظام څخه د خلکو په ملاتړ کې نغښتی دی. هغوی دا درک کړې چې تر څو عام خلک په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د ښوونې او روزنې څخه مادي او معنوي ملاتړ ونه کړي، تر هغې پیاوړی ښوونیز نظام منځ ته نشي راتللی.

که څه هم د پوهنې وزارت په تېرو شاوخوا دریو کلونو کې د پوهنیز نظام د پیاوړتیا او ځواکمنتیا په برخه کې ډېر کار کړی خو بیا هم ستونزې په بشپړه توګه له منځه ندي تللي او لا ډېرو هڅو او کار ته اړتیا ده. له نېکه مرغه چې په همدې درې کلن مزل کې زموږ علم دوسته هېوادوالو له پوهنې وزارت سره په دې لار کې په پوره اخلاص مزل کړی او پدې برخه کې یې هر ډول مادي او معنوي مرستې کړي دي.

د پوهنې وزارت په همدې موده کې د ولسونو په ملاتړ توانېدلی چې د هېواد د ټولو ولایتونو د مرکز په ګډون په زیات شمېر لرې پرتو سیمو کې چې په تېرو کلونو کې ورته هېڅ ډول پاملرنه نه وه شوې په سلګونو مدرسې او ښوونځي جوړ او په لسګونو زره تنه طالب العلمانو او زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابره کړي او دا لړۍ لا هم په چټکۍ سره روانه ده، تر څو د هېواد په هره سیمه کې د علم او پوهې ډېوې بلې او د هېواد بچیان د دیني او عصري علومو په ګاڼه سمبال کړي. دا ټولې لاسته راوړنې د ولسونو د مادي او معنوي ملاتړ پرته ناشونې وې، له دې امله د پوهنې وزارت له ټولو هېوادوالو چې د علم او پوهې د ودې او پرمختګ په برخه کې یې ونډه اخیستې او لا هم د مرستې تمه ډېرې منه او قدرداني کوي.

خو لکه څنګه مو چې یادونه وکړه په هېواد کې د علم او پوهنې وده او پرمختګ د ټولو هېوادوالو ګډ مسئولیت دی او په دې برخه کې دوامداره او فعاله ملاتړ ته اړتیا ده. اسلامي امارت یواځې له ولس سره د ګډ کار په پایله کې کولی شي د یوه پیاوړي، او لوړ کیفیت‌لرونکي تعلیمي نظام بنسټ کېږدي. د پوهنې وزارت ژمن دی چې د تېر په څېر د خپل توان سره سم د هېواد بچیانو ته د دیني او عصري علومو د زده کړې زمینه برابره کړي او په دې برخه کې یې شپه او ورځ هلې ځلې روانې ساتلي.

په پای کې باید یادونه وکړو چې تعلیم یوازې د زده‌کوونکو او ښوونکو ترمنځ اړیکه نه ده، بلکې دا د ټولنې ګډ مسئولیت دی.

نو ګرانو هېوادوالو! راځئ چې په هېواد کې د تعلیم او پوهې لاسته راوړلو ته لومړیتوب ورکړو، څکه چې د علم په ګاڼه سمبال نسل د هېواد روښانه راتلونکې تضمینوي.

## د کرنې او مالدارۍ وزارت لخوا پوهنې وزارت ته ۱۵۰ جریبه ځمکه ورکړل شوه

په هغه غونډه کې چې د پوهنې وزارت د املاکو او ښوونځیو د ساتنې او د کرنې او مالدارۍ وزارت د ځمکې د لیږد او وېش رئیسانو په ګډون جوړه شوې وه، په ترڅ کې یې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام د حکم سره سم، پوهنې وزارت د تعلیمي زیربناوو د ملاتړ او پراختیا لپاره، د کرنې او مالدارۍ وزارت لخوا ۱۵۰ جریبه ځمکه په رسمي ډول پوهنې وزارت ته ورکړل شوه.

د غزنې ولایت په مرکز قلاتي کلي کې د ۱۵۰ جریبه ځمکې اسناد د کرنې وزارت د ځمکې د لېږد او وېش د رئیس محترم مولوي سید محمد سعید او د پوهنې وزارت د املاکو او ښوونځیو د ساتنې د رئیس محترم مولوي سمیع الحق حماس لخوا لاسلیک او په رسمي ډول د پوهنې وزارت ته وسپارل شول. د پوهنې وزارت مشرتابه د یاد وزارت د تعلیمي او پرمختیایي پلانونو او پروګرامونو لپاره د رسمي ادارو او علم پروره افغان ملت له ملاتړ ستاینه، هرکلی او قدرداني کوي.

## دیدار رئیس معارف شهر کابل با نمایندگان نهاد های تعلیمی کشور ترکیه در افغانستان

محترم قاری عبدالباسط حقانی رئیس معارف شهر کابل با مراد عبدالصمد و ابراهیم فاتح گوچلو، معاونان نهاد های تعلیمی کشور ترکیه در افغانستان دیدار کرد.

در این دیدار رئیس معارف شهر کابل از همکاری‌های دوامدار کشور ترکیه در بخش تعلیم و تربیه قدردانی کرده، اطمینان داد که آماده هر نوع همکاری با آن نهادها جهت پیشرفت نظام معارف افغانستان می باشند.

همچنان هیئت نهاد تعلیمی ترکیه در این دیدار پیرامون مسائل تعلیمی صحبت نموده، گفتند: تمام رهنمودهای وزارت معارف در مکاتب افغان - ترک اجراء میگردد و به تطبیق آن متعهد می باشیم.

آن ها افزودند: که در زمینه های تقویه نظام معارف و فعالیت های انکشافی وزارت معارف افغانستان برای هرگونه همکاری آماده می باشند.

هم‌چنین پیشنهادها و تجربیات موثر خویش را به منظور بهبود وضعیت تعلیمی با رئیس معارف شهر کابل شریک ساختند.

## افتتاح کارگاه آموزشی برای معلمین صنوف تعلیمات محلی در ولایت غور

کارگاه آموزشی ارتقای ظرفیت های مسلکی برای ۱۷۰ تن از معلمین صنوف تعلیمات محلی ولایت غور، به همکاری یک نهاد همکار با معارف با حضور مسئولین معارف و مقامات آن ولایت افتتاح گردید.

در محفلی که به همین مناسبت دایر گردیده بود، محترم مولوی حفیظ الله محفوظ، رئیس معارف ولایت غور در زمینه مزایای تعلیم و تربیه و همچنان تلاش جهت ارایه آموزش موثر در سطح ولایات و ولسوالی ها صحبت نموده و در مورد اهمیت محتوا، مواد آموزشی، ارزیابی



و تعقیب محتویات این برنامه‌ها از سوی مسئولین مربوطه و راجع به شیوه های تدریس معلمین در صنوف معلومات داد.

## د پوهنې وزارت دارالعلومونو رئیس لوګر ولایت ته سفر وکړ

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت د دارالعلومونو رئیس محترم الحاج مولوي عبدالقدوس قدوسي په مشرۍ یو پلاوي لوګر ولایت ته سفر وکړ.

نوموړي د یاد ولایت له پوهنې رئیس او مسئولینو سره په کتنه کې، د خپل سفر اساسي موخې تشریح او هغوی ته یې د پوهنې وزارت د هغو پروګرامونو په اړه معلومات وړاندې کړل چې د ښوونیزو او روزنیزو مرکزونو د کیفیت لا پراختیا او پیاوړتیا په برخو کې یې تنظیم کړي دي.

تاکل شوې ده چې نوموړی به د خپل سفر پرمهال د یاد ولایت له دارالعلومونو او درسي بهیر څخه څارنه ترسره او هم به د پورته ذکر شوو ادارو وړاندیزونه، نظرونه او ستونزې له نږدې وارزوي.

د لوګر ولایت پوهنې رئیس له یاد پلاوي څخه د هرکلي سربېره، د هغوی د پلانونو پلي کولو لپاره د هر ډول ممکنه همغږۍ او همکارۍ ژمنه وکړه.

**بدخشان ولایت ته د ...**

په توګه معرفي او د ورسپارل شوو دندو په ترسره کولو کې یې نوموړي ته د خیر دعاء وکړه.

په دې غونډه کې د پوهنې وزارت د مسئولینو سربېره، د سیمه ییزو حکومتي ادارو یو شمېر مسئولینو، علماء کرامو او قومي مشرانو هم برخه درلوده.

په دې غونډه کې د پوهنې نوي رئیس په خپلو خبرو کې د اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام او د پوهنې وزارت د رهبرۍ له باور څخه د قدردانۍ ترڅنګ ژمنه وکړه چې په خپل ټول توان او تجربې سره به هڅه وکړي، چې د یاد وزارت د مشرتابه د لارښوونو په رڼا کې ورسپارل شوې دنده په غوره او صادقانه ډول ترسره کړي.

له بلې خوا د بدخشان ولایت یو شمېر مسئولینو او علماء کرامو هم په خپلو خبرو کې د پوهنې وزارت سرپرست او د هغه مل پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او د یاد وزارت د مشرتابه له هڅو، چې په دغه ولایت کې یې د پوهنې کیفیت لوړولو او د هېواد پوهنیز سیستم د پیاوړتیا په برخه کې ترسره کوي، ستاینه وکړه.

**دیدار معین تعلیمات اسلامی ...**

باید از این فرصت ارزشمند برای ارائه خدمات بهتر به هموطنان خود بهره‌برداری کنیم.»

وی تأکید کرد که از دانش مدرسین بخش های انکشافی هم باید استفاده اعظمی صورت گیرد و همچنان والدین طالب العلمان و شاگردان تشویق شوند تا به تعلیم و تربیه فرزندان‌شان توجه ویژه نمایند.

در پایان این دیدار، معین محترم تعلیمات اسلامی وزارت معارف اطمینان داد که رهبری وزارت معارف از هر نوع همکاری در راستای فراهم آوری سهولت های بیشتر برای تعلیم و تربیه اولاد وطن دریغ نخواهد کرد.

**پکتیکا ولایت کې د ...**

لپاره د ۷ بابه درسي ټولګیو جوړولو چارې، د خلکو په مالي مرسته د ۵۰۰ زره افغانیو په لګښت پیل شوې.

د یادونې وړ ده، چې د دغو درسي ټولګیو په جوړولو سره به دیادې مدرسې سلګونو طالب العلمانو لپاره مناسب ښوونیز چاپېریال را منځ ته شي.

د پوهنې وزارت له ښوونیز نظام سره د هېوادوالو، په ځانګړې توګه د پکتیکا ولایت علم پروره ولسونو له مادي او معنوي مرستو مننه او قدرداني کوي.

**اهدای ساختمان برای ...**

رهبری وزارت معارف از بابت مساعدت این تعمیر از سوی باشندگان ولایت پروان به معارف، اظهار امتنان و قدردانی می نماید.

**د کابل ښار اړوندو مدارسو ...**

پیاوړتیا کې مهم ګام وباله ویې ویل:

"علماءکرام د راتلونکو نسلونو په ښوونه او روزنه کې بنسټیز او مهم رول لوبوي او دا علماءکرام دي، چې ټولنه صراط المستقیم ته رهبري کوي."

نوموړي زیاته کړه: "زه د دیني تعلیمي مرکزونو له مشرانو او مهتممینو څخه غوښتنه کوم، چې په خپلو دیني مدارسو کې د تدریسي کیفیت لوړولو لپاره جدي او لازیاتې هڅې وکړئ."

په ورته مهال د مدارسو او دار الحفاظونو رئیس محترم مولوي عبدالرزاق صدیق، علماءکرامو ته په خپله وینا کې وویل: "موږ له تاسو څخه هیله کوو، چې د هېواد بچیانو د سالمې زده کړې او روزنې په برخه کې خپل مسؤلیتونه په غوره توګه ادا کړئ او د خپلو مدارسو د نیمګړتیاوو او ستونزو له منځه وړلو لپاره هره ممکنه هڅه وکړئ."

نوموړي زیاته کړه: "د پوهنې وزارت په دې وروستیو کې ښوونځیو ته قرطاسیه او تدریسي توکي وېشلي او یاد وزارت ژمن دی، تر څو دهغوی د نورو ستونزو حل لپاره هم جدي هڅې وکړي."

په پای کې د مدارسو او دار الحفاظونو رئیس د مدارسو له مسئولینو وغوښتل چې د طالب العلمانو د پوهې لوړولو په موخه د دوی ترمنځ علمي سیالۍ تنظیم او په لار واچوي.

# عبدالعلی مستغنی شاعر و نویسنده توانای کشور

احمد

عبدالعلی مستغنی فرزند رمضان، درسال ۱۲۹۳ خورشیدی در محلهٔ بالاحصار شهر کابل زاده شد. او در کودکی، نخست نزد پدرش درس خواند و پس از آن به فراگیری دانش‌های گوناگون ادبی، فلسفه، منطق، اصول تصوف، فقه وبه ادبیات عربی نیز پرداخت. وی از جوانی به سرودن شعر روی آورد و دیری نگذشت که آوازه‌ای بلند یافت.

با انتشار سراج‌الاخبار، عبدالعلی مستغنی مسئول بخش ادبی و مدتی هم مصحیح این جریده بود. وی عضو انجمن ادبی کابل نیزبود و چندی در مکتب حبیبیه تدریس کرد. مستغنی شعرهای بسیار دل‌انگیز به زبان پشتو هم میسرود و با زبان عربی علاقه زیاد داشت . او از نخستین شاعرانی بود که به سرودن شعرهایی با مضامین اجتماعی، روی آورد. فراخوانی مردم به آرمان‌های آزادی‌خواهانه، پیکار با اهریمن بی‌سوادی و تبیین جلوه‌های دانش و آگاهی در پیشرفت‌های اجتماعی مردم، با بهره‌گیری از لغات امروزی، او را سرآمد شاعران روزگار خود قرار داده بود. وی که در متن پیدایش موج نوخواهی ادبی افغانستان به سر می برد، از این اقبال برخوردار بود که به انتشار شعرهای اجتماعی و اخلاقی خود، در نشریه‌های گوناگون می پرداخت. از بد حادثه، مجموعهٔ شعرهای مستغنی که در روزگار شاعر، گردآوری شده بود، پس از مرگ وی به سرقت رفت.

وی در سال ۱۳۵۲ شمسی به عمر ۵۹ سالگی، پس از یک هفته بیماری درگذشت و در شهدای صالحین کابل به‌خاک سپرده شده است.

مستغنی، با استفاده از تشبیهات، استعارات و کنایات ظریف به شعرهایش حلاوتی تازه بخشیده است. گرچه سروده‌های وی در قالب‌های گوناگون، از ظرافت‌های شاعرانهٔ همانند برخوردار است، اما این ویژگی در قصیده‌های مستغنی به اوج خود میرسد. تأثیر شاعران بزرگ قصیده‌سرا، بخصوص شاعران پیرو سبک هندی، در شعرهای مستغنی آشکار است.

با این‌همه، او در شعر تقلید را سخت نکوهیده میداند و بر آن است که شاعر باید همگام با روزگارش، با لغات برخاستهٔ روز سخن گوید. با این حال، یکی از مشهورترین شعرهای مستغنی، شعری است که بیگانه‌ستیزی و شور آزادگی در آن موج میزند و زمانی در گرماگرم مبارزات استقلال‌طلبی افغانها در برابر انگلیس نقل مجالس بوده است:

**ناز دارد بی‌سر و سامانیم**
**بحر در بر قطرهٔ توفانی‌ام**
**آسمان سیر است، سرگردانی‌ام**
**مشکل هر کار شد آسانیم**
**گر ندانی غیرت افغانیم**
**چون به میدان آمدی می‌دانیم**

نثر مستغنی نیز بسیار درخشان است. استفاده از لغات سلیس و رسا در مضامینی ارزشمند، و نیز گونه‌ای سوز و گداز قلبی در نثرهایش که ترجمان شکوه از جفای روزگار بوده است، کوشش‌های پیگیر او را برای دگرگونی در شیوه‌ی نگارش یادآور میشود، چنان‌که ستیزه‌های پیگیر برخی از نویسندگان با وی و پایداری دیرپای او را در پی داشته است.

لیسه عالی عبدالعلی مستغنی در کابل که به اسم این شاعر توانا مسمی گردیده است ، ابتدا در سال ۱۳۴۲ خورشیدی به صورت ابتداییه از صنف اول تا صنف ششم ایجاد گردید که در سال ۱۳۵۸ از ابتدایی به متوسطه و درسال ۱۳۶۲ نظر به هدایت مقامات وزارت معارف آن زمان به لیسه ارتقاء داده شد.

## قدرمنه ښوونکیه! تاته هغه ماشوم راځي چې د ذهن پاڼې يې سپينې دي!

معلم یعنې ښوونکی، معلم هغه سپیڅلی نوم دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خپله دغه نوم ځان ته انتخاب کړی او وایي: انما بعثت معلماً. یعنې زه معلم را استولی شوی یم.

ګرانو ښوونکو! تاسو ته هغه کسان په ټولګي کې ناست دي چې د ذهن صفحې یې سپینې دي چې هر څه تاسو پرې لیکئ!

طالب العلمان او زده کوونکي هغه نازکو نیالګیو ته ورته دي چې په آسانۍ سره هر لور ته کږېږي نو باید د دوی سمه روزنه وکړئ او د تعلیم تر څنګ یې داسې روزنه وکړئ چې نه یوازې خپلې کورنۍ بلکه د هېواد لوی خادم شي.

قدرمن استاده! د ملت د بچیانو روزنه ستا لپاره بهترین عبادت او غوره صدقه ده په لوړ عزم، اخلاص او مینه دا سپیڅلی خدمت سر ته ورسوه!

لیکونکی : سدیس



## علم

چې په علم څوک آباد وي　غم يې نشته تل به ښاد وي
خدای په علم پېژانده شي　په دانش ابلیس رانده شي
علم تا په طاعت پوه کا　علم تا په حرمت پو کا
علم تا په ټولو بر کا　د دنیا دانایی درکا
حق نا حق زده کړې په علم　در ښکاره شي عدل ، ظلم
په دنیا چې تور او سپین دي　واړه علم و ته مبین دي
علم دین دی هم دنیا ده　د پادشاه هم د ګدا دی
په هر نېک، په بد آشنا شي　د دنیا، د دین بادشاه شي
پوهه واړه عنایت دی
غوره لار د عبادت دی

خوشحال خان خټک
د خوشحال خان کلیات ... ۷۷۶- ۷۷۹ مخونه

## ارزش علم

علم بود چشمهٔ آب حیات　علم بود معنی راه نجات
علم و کمال و هنر آموختن　به بود از سیم و زر اندوختن
چون بودت گنج، نهانش کنی　چون بودت علم، عیانش کنی
آن سبب وحشت و آفات تست　وین همگی فخر و مباهات تست
علم به قیمت ز گهر بیشتر　قدر معلم ز پدر بیشتر
زان‌که پدر روح تو را از سماک　آرد و آلوده نماید به خاک
لیک معلم دهدش بال و پر　تا که نماید سوی گردون سفر
ذلت و بیچارگی و سوء حال　سختی و بدبختی و رنج و ملال
این همه دان از عدم علم و بس　نیست روا غفلت از آن یک نفس
علم کلیدی است صغیرا کز آن
باز شود قفل مهم جهان

## شیشه و آینه

جوان ثروتمندی نزد یک روحانی رفت و از او اندرزی برای زندگی نیک خواست. روحانی او را به کنار شیشهٔ کلکین برد و پرسید: پشت شیشهٔ کلکین چه می بینی؟ جوان پاسخ داد: آدم‌هایی که می‌آیند و می‌روند و گدای نابینا که در خیابان صدقه می‌گیرد.

بعد آین بزرگی به او نشان داد و باز پرسید: در این آینه نگاه کن و بعد بگو چه می‌بینی؟

جوان پاسخ داد: خودم را می‌بینم. دیگران را نمی بینم.

آن روحانِی رو به جوان کرد و گفت:

آینه و شیشهٔ هر دو از یک مادهٔ ساخته شده‌اند،. اما در آینه لایهٔ نازکی از نقره در پُشت شیشه قرار گرفته و در آن چیزی جز شخص خودت را نمی‌بینی. این دو شیشه را با هم مقایسه کن.

وقتی شیشه فقیر باشد، دیگران را می‌بیند و به آنها احساس محبت می‌کند. اما وقتی از نقره (یعنی ثروت) پوشیده می‌شود، تنها خودش را می بیند. تنها وقتی ارزش داری که شجاع باشی و آن پوشش نقره‌ای را از پیش چشم‌هایت برداری تا بار دیگر بتوانی دیگران را ببینی و دوست‌شان بداری.

## منفي فکرونه

لکه څنګه چې سمندر په ټول توان سره يوه وړه کښتۍ نشي ډوبولی تر هغه چې کښتۍ ته اوبه لار پیدا نه کړي او وردننه نشي، همداراز د خلکو منفي فکرونه تا نشي پرځولی تر څو چې دغو منفي فکرونو ته په خپل ذهن کې ځای ور نه کړې.



## سخنان بزرگان

**مسئولیت زندگیتان را به عهده بگیرید.**

این را بدانید فقط شما هستید که میتوانید خودتان را به جایی که میخواهید برسانید، نه هیچکس دیگری

○○○

اغلب شکست‌های زندگی برای افرادی رخ داده که موقع تسلیم شدن نمی‌دانستند چقدر به موفقیت نزدیک شده‌اند.

○○○

۲. اگر می‌خواهید زندگی شادی داشته باشید، زندگی خود را به یک هدف گره بزنید نه آدم‌ها و چیزها.

انسان موفق کسی است که بتواند با خشت‌هایی که دیگران به سوی اش به خاطر مزاحمت پرتاب می‌کنند ساختمانی محکم برای زندگی‌اش بسازد.

○○○

به یاد داشته باشید انسان‌های خوشبخت کسانی نیستند که در زندگی بیشتر پول به دست آورده‌اند، بلکه آن‌هایی هستند که بیشتر به دیگران بخشیده‌اند.

○○○

اگر خودتان طرح زندگی خود را طراحی نکنید، احتمالا در طرحی که دیگران برای شما کشیده‌اند می‌افتید، حدس بزنید آن‌ها برای شما چه نقشهٔ خواهند داشت؟ فکر نکنید چیز زیادی باشد!

○○○

انسان به هر چیزی که بتواند در ذهنش برای زندگی خویش تصور کند و به آن باور داشته باشد می‌تواند برسد.

# Marif
Weekly

کتنپلاوی: الحاج مولوي شهاب الدين «ثاقب»
مولوي عزيز احمد «ريان»
مفتی حبيب الله «قتاده نوري»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسيم «عياذ»
مسئول مدير: سعيد «جلال»
انځور اخيستونکی: محمد ادريس «نوري»
محمد اشرف «رسولي»

صفحه آرا: محمد قسيم «يعقوبي»
تيراژ: ۳۰۰۰
پته: د کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت

**علاقه مندان معارف و نويسنده گان گرامی!**
شما می توانيد انتقادات، پيشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ايميل آدرس ذيل ارسال نماييد.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړيکي شميره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 302 /2025


## د کابل ښار مدارسو د مهتممينو ترمنځ د همغږۍ غونډه تر سره شوه

د پوهنې وزارت د سرپرست محترم الحاج مولوي حبيب الله آغا په مشرۍ، د يو شمېر رئيسانو، مسئولينو او کارکوونکو تر منځ، د کابل ښار په مدارسو کې د تدريسي او اداري چارو کيفيت لا لوړوالي په موخه د همغږۍ غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې د کابل ښار پوهنې رئيس محترم قاري عبدالباسط حقاني د کابل ښار اړوندو مدارسو د مسئولينو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کولو په اغېزمنتوب خبرې وکړې او د ديني مرکزونو د اداري چارو معياري کولو او يو شمېر نورو موضوعاتو په اړه يې هراړخيز معلومات وړاندې کړل.

وروسته د پوهنې وزارت سرپرست د دا ډول غونډو جوړول د ښوونيز نظام په ...

۲مخ



## د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معين د ترکيې هېواد د تعليمي بنسټ له پلاوي سره وکتل

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معين محترم الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده د ترکيې هېواد د تعليمي بنسټ مشاور استاد هارون او د افغان ترک دارالعلوم رئيس دوکتور محمد چلن، سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په ياده کتنه کې د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معين د ترکي پلاوي له ورتګ هرکلی وکړ او څرګنده يې کړه: "زموږ هېواد شاوخوا

۵۰ کاله د پرديو تر اشغال او سختو جګړو لاندې و، چې په ياده موده کې پوهنيز نظام ته ستر زيانونه اوښتي دي، اوس د دې وخت رارسېدلی دی، چې په ګډه د دغو ستونزو حل لپاره هڅې وکړو."

د ترکيې د تعليمي بنسټ پلاوي داسلامي زده کړو معين ته د خپلو فعاليتونو په اړه معلومات ورکړل او ويې ويل: دوی په افغانستان کې د پوهنې

وزارت تول هدايتونه پلي کړي او په هره برخه کې ورته ژمن دي.

هغوی زياته کړه چې د استادانو د وړتياوو لوړولو لپاره به اغېزمن سيمينارونه تنظيم کړي او غوښتنه يې وکړه چې د افغان ترک دارالعلومونو زده کوونکو ته دې د لوړو زده کړو فرصتونه برابر شي. په پای کې دواړو لورو د تعليمي برخې لا پراختيا لپاره پر ګډو همکاريو ټينګار وکړ.

## گذاشتن سنگ تهداب ساخت يک باب مدرسه در بدخشان به کمک مالی مردم

سنگ تهداب مدرسه جهاديه کران منجان در مرکز ولسوالی کران منجان ولايت بدخشان به حمايت مالی اهالی محل در زمينی به مساحت ۱۴ جريب طی مراسمی از سوی مسئولين معارف آن ولايت گذاشته شد.

قرار است به تعداد ۳۰ باب صنوف و اتاق های اداری در اين مجتمع تعليمی ساخته شود، که ظرفيت پذيرش ۴۰۰ تن طالب‌العلم را دارا خواهد بود.

وزارت معارف از همکاری ها و حمايت های مادی و معنوی مردم کشور و بالاخص اهالی ولايت بدخشان با نظام معارف قدردانی می کند.




## د هېواد په تودو سيمو کې د ښوونځيو کلنۍ آزموينې پيل شوې

د پوهنې وزارت د ښوونيزې لايحې له مخې، هر کال د هېواد په تودو سيمو او ولايتونو کې نوی تعليمي کال، د وري مياشتې په لومړۍ نېټه پيل او د راتلونکي کال غويي مياشتې تر پايه پورې دوام کوي، چې اوسمهال د روان ۱۴۰۴ ښوونيز کال د يادو ولايتونو د ښوونځيو کلنۍ آزموينې د غبرګولي مياشتې په لومړۍ نېټه پيل او ۱۵ ورځې به دوام وکړي.

همدارنګه د همدغو ولايتونو د پوهنې رياستونو لخوا د ځانګړو پلانونو او پروګرامونو سره سم، د ياد رياستونو مسئولين او نور چارواکي په مرکز او ولسواليو کې ښوونځيو ته لاړل او د آزموينو له پرمختګ او چمتووالی څخه يې له نږدې کنټرول او څارنه ترسره کړه.

د ولايتونو پوهنې رئيسانو او چارواکو د پورته ذکر شوو ادارو له مديرانو او ښوونکو سره وکتل او له هغوی يې وغوښتل چې په دغو آزموينو کې بشپړه روڼتيا او عدالت تأمين کړي.

په ورته مهال، چارواکو له زده‌کوونکو څخه هم وغوښتل چې د آزموينې مهالوېش په پام کې ونيسي او په ټاکل شوي وخت کې خپلو آزموينو ته حاضر شي.

د يادونې وړ ده، چې د هېواد په تودو سيمو کې د صنفي اصولو دورې آزموينې د غويي په ۱۵مه پيل او د همدې مياشتې تر ۳۱مې پورې يې دوام وکړ.

## بازسازی دو باب مدرسه در ولايت لوگر به کمک مالی باشندگان محل

برای مدارس دينی؛ شهيد امير حمزه (رضی الله عنه) و غازی امين الله ولسوالی بره کی برک ولايت لوگر به ارزش ۱۴۷ هزار افغانی از سوی خانواده معارف دوست نايب‌خيل مساعدت مالی صورت گرفته است که در بخش های بازسازی، تمديد سيستم های برق آفتابی، خريد کتب، موارد ضروری و وسايل تخنيکی به مصرف رسيده است.

وزارت معارف حمايت های مادی و معنوی مردم کشور و بالاخص مردم علم پرور ولايت لوگر را به ديده قدر نگريسته و باور دارد که اين وزارت می تواند در همکاری با مردم علم پرور افغانستان، به تمام مشکلات فايق آمده و زمينه هر چه بيشتر و بهتر تعليمی و تربيتی را برای اولاد وطن مهيا سازد.

## افتتاح چند باب مکتب از سوی سرپرست وزارت معارف در جوزجان

محترم الحاج مولوی حبيب الله آغا سرپرست وزارت معارف و هيات معيتی شان که به هدف بررسی وضعيت تعليمی ولايت جوزجان عازم آن ولايت گرديده بودند پس از ديدار با مسئولين معارف، علماء کرام و بزرگان آن ولايت، شماری از پروژه های ساخت مکاتب را که کار ساختمانی آن تکميل گرديده بود افتتاح و به بهره برداری سپرد.

اين پروژه ها شامل ساخت شش صنف درسی در ليسه اسلام جوی، متوسطه چهل شهر شبرغان مرکز ولايت جوزجان، تعمير شش صنفی ابتدائيه « بيش اريغ اولميه» با داشتن دو اتاق اداری با تمام ملحقات و تجهيزات لازمی آن که در مساحت ۳ جريب زمين در ولسوالی آقچه آن ولايت ساخته شده است، ديوار احاطوی مکتب غجری خانه شهر شبرغان و ۶غرفه مبرز درابتدائيه احمد شاه بابا ابدالی مرکز ولايت جوزجان ميباشد.

در محفل که به اشتراک ده ها تن از علماءکرام، مسئولين معارف و بزرگان اين ولايت راه اندازی شده بود سرپرست وزارت معارف بر توسعه متوازن خدمات



تعليمی برای اولاد وطن در سراسر کشورتآکيد نموده و اتمام کار های ساختمانی پروژه های ذکر شده را به باشندگان ولايت جوزجان تبريک گفت.

باشنده گان ولايت جوزجان نيز از ساخت اين مکاتب ابراز خرسندی نموده و آنرا برای رشد و پيشرفت جامعه و کشور مفيد خواند و در توسعه و غنامندی نظام آموزشی کشور وعده يی هرگونه همکاری نمودند.

به گفته مسئولين رياست معارف جوزجان هزينه مجموعي ساخت اين پروژه ها به ۷۴ ميليون و ۹۲۹ هزار افغانی ميرسد که از سوی يک نهاد همکار با معارف تمويل شده است. مسئولين می افزايند که با بهره برداری اين پروژه ها مشکلات هزاران تن شاگرد اين ولايت از ناحيه نبود مکان مناسب آموزشی حل خواهد گرديد و برای آنان زمينه آموزش در فضای مناسب درسی فراهم خواهد شد.

**ګرانو هېوادوالو!**

**راځئ له مدرس او ښوونکي سره د خپلو بچيانو د ښوونې او روزنې د روند مسئوليت په ګډه ادا کړو!**